د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# د جَمعې سره نمونځ کول

20 نومبر، 2025ء



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: 5 منټه (2): دُعا یادول: 5 منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه۔

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ حلقو کښې پهٔ 72 نیک اعمال کښې د یو نیک عمل د جمعې سره د نـمونځ کول پهٔ موضوع ګټه ور معلومات درکولے شي او د اودهٔ کیدو پهٔ وخت لوستلے کیدونکې دُعا به یادولے شي۔ پهٔ اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم!

## د دُرُود شریف فضیلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کله چې تاسو پهٔ رسولانو (عَلَيهِمُ السَّلام) باندې دُرُودِ پاک لولئ نو پهٔ ما باندې یې هم لولئ، بے شکه زهٔ د ټولو جهانونو د رَبّ رسول یم۔ [1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جَمعې سره نـمونځ کول

نیک عمل نمبر 2: آیا نن تاسو پینځه واړه نـمونځونه د جَمعې سره ادا کړل؟ [2]

## د جَمعې سره د نـمونځ کولو مطلب

پهٔ اِمام پسې نـمونځ کولو ته د جَمعې سره نـمونځ وئیلے شي۔

وضاحت: جَمعه پهٔ دوه قِسمه ده: (1): جَماعتِ اُوْلیٰ: د محلې جومات د کوم د پاره چې اِمام

---

1... جمع الجوامع، جلد:1، صفحه:320، حدیث:2354۔

2... 72 نیک اعمال، صفحه:1۔

مقرر وي، هلته اِمام د اذان او اِقامت سره د سُنَّت طريقې مطابق چې کومه جَمعه کوي هغه **جَمَاعتِ اُولیٰ (وړومبی جَمعه)** ده۔ [1] **(2)**: **جَمَاعتِ ثَانِيَه**: د جماعتِ اُولیٰ (وړومبی جَمعې) کيدو نه پس چې کومه جَمعه کولے شي هغه **جَمَاعتِ ثَانِيَه (دويمه جَمعه)** ده۔

## آيت مبارک

اللّٰه پاک فرمائيلي دي:

وَ ارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ﴿۴۳﴾

(پاره:1، سورۂ البقره:43)

**ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** او د رکوع کوونکو سره رکوع اوکړئ۔

د قرآنِ کريم مفسر، مفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په تفسير نعيمي کښې د دې آيت لاندې فرمائي: يعنې نمونځ په خپلو کورونو کښې ځانله مۀ کوئ بلکې په پينځ وخته جَمعه کښې شامل شئ او د نورو نمونځ ګزارو سره نمونځ ادا کوئ د پاره د دې چې ستاسو د دِين برکتونه او انوار نصيب شي۔ [2]

د مدينے سرکار، د زړونو قرار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دې: چا چې د **سحر** نمونځ د جَمعې سره اوکړو، بيا کيناستو او د الله پاک ذِکر يې کولو، تر دې چې نمر راوخيژي د هغۀ د پاره به په جَنَّتُ الفردوس کښې 70 درجې وي، د هرو دوو درجو په مينځ کښې به دومره فاصله وي لکه څومره چې يو تربيت يافته تيز رفتاره د ښۀ نسل اَس په 70 کالو کښې وهي او چا چې د **ماسپښين** نمونځ د جَمعې سره ادا کړو د هغۀ د پاره به په جَنَّتِ عدن کښې 50 درجې وي، د هرو 2 درجو په مينځ کښې به دومره فاصله وي لکه څومره چې يو تربيت يافته تيز رفتاره د ښۀ نسل اَس په 50 کالو کښې وهي او چا چې د **مازيګر** نمونځ د جَمعې سره اوکړو د هغۀ د پاره به د اولادِ اسماعيل نه د داسې 8 غلامانو د ازادولو ثواب

---

1…بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:697 ملخصًا۔

2…تفسير نعيمى، پاره:1، البقرة، تحت الآية:43، جلد:1، صفحه:341۔

ورکړے کیږي کوم چې د بَیتُ الله (یعنې د کعبې شریفې) خیال ساتونکي وي او چا چې د ماښام نـمونځ د جَمعې سره اوکړو د هغهٔ د پاره به د حجِ مَبرور (یعنې د قبول شوي حج) او د قبول شوې عمرې ثواب وي او چا چې د ماسخوتن نـمونځ د جَمعې سره اوکړو د هغهٔ د پاره به پهٔ لیلةُ الـقَدر کښې د قیام (یعنې د عبادت) کولو همره ثواب وي۔ [(1)]

## د جَمعې سره د نـمونځ کولو پهٔ باره کښې مختلف احکام

(1): پینځهٔ واړه نـمونځونه پهٔ جومات کښې د جَمعې سره (ادا کول) واجِب دي۔ [(2)]

(2): مُدرِک یعنې د ټولې جَمعې موندونکے هغه دے کوم چې ټول رکعتونه د اِمام سره ادا کړي۔ [(3)] (3): څوک چې د اِمام سره پهٔ تشهد کښې شامل شي هغهٔ ته جَمعه خو میلاؤ نهٔ شوه البته د جَمعې ثواب به یې کیږي خو د دهٔ به دومره ثواب نهٔ کیږي څومره چې د پوره نـمونځ کوونکي کیږي۔ [(4)] (4): که د اِمام سره د محلې والؤ نـمونځ وشو او څینې خلق پاتې شو نو د اذان کولو نه بغیر، د محراب نه پهٔ بل ځائے کښې جَمعه کولے شي۔ [(5)] لهذا که چا ته وړومبۍ جَمعه میلاؤ نهٔ شي، که جَمعه کولے شي نو جَمعه دې نهٔ پریږدي۔ [(6)]

(5): پهٔ دې امید باندې چې مونږ به خپله جَمعه بیا اوکړو، د شرعي مجبورۍ نه بغیر وړومبۍ جَمعه قصداً عمداً پریښودل ګناه ده۔ [(7)] (6): پهٔ داسې ځائے کښې دې هیڅکله هم دوئمه جَمعه نهٔ کیږي چرته چې فتنه او نفرت پیدا کیږي مثلاً: اِمام صاحب یا نور نـمونځ کوونکي دا ګڼي او اعتراض کوي چې قصداً عمداً جماعتِ ثانیه (دویمه جَمعه) کیږي۔ [(8)]

1…شعب الایمان، باب فی الصبر علی المصائب، جلد:7، صفحه:137، حدیث:9761۔

2…فتاوی رضویه، جلد:7، صفحه:194۔

3…بحر الرائق، کتاب الصلاۃ، باب الامامة، جلد:1، صفحه:623۔

4…بهارِ شریعت جلد:1، صفحه:698، ملخصاً۔

5…فتاوی اہلسنت، فتوی نمبر:WAT1604۔

6…فتاوی رضویه، جلد:7، صفحه:199 بتغیر قلیل۔

7…فتاوی رضویه، جلد:7، صفحه:199 ملتقطاً۔

8…فیضان نماز، صفحه:173۔

# د جَمعې د نـمونځ سره د نيکانو خلقو محبت

❀ د حضرت عبد الله بن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہما نه به چې کله (د شرعي مجبورئ پۀ وجه) جَمعه قضا شوه نو د بل نـمونځ پورې به يـې نفلونه کول۔ [(1)] ❀ د حضرت سعيد بن عبد العزيز رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نه به چې جَمعه قضا شوه نو خپله ږيره به يـې نيوله او ژړل به يـې۔ [(2)] ❀ د حضرت محمد بن سِمَاعه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نه پۀ 40 کالو کښې صرف يو ځل تـکبير اُولیٰ قضا شوے وو۔ [(3)] ❀ د تابعي بزرګ حضرت سعيد بن مسيب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نه پۀ 40 کالو کښې يو ځل هم جَمعه نۀ وه قضا شوې۔ [(4)] ❀ د حضرت اَعمش رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نه پۀ 70 کالو کښې چرې هم تـکبير اُولیٰ نۀ وو قضا شوے۔ ❀ حضرت يحيٰ بن سعيد قَطان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د جَمعې پۀ لټون کښې چرې هم نۀ دے ليدلے شوے (يعنې د هغوئي نه به هډو جَمعه نۀ قضا کيدله) ❀ د حضرت سُوَيد بن غَفَله رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ عمر 126 کاله وو خو هغوئي به د نـمونځ کولو د پاره جومات ته تشريف وړلو۔ [(5)] ❀ اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلسُنَّت، اِمام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د ماشومتوب نه د جَمعې سره د نـمونځ کولو پابند وو، يو ځل يـې د ښپې غټه ګوته پخه شوه، ډاکټر د حرکت کولو او جومات ته د تللو نه منع کړو، د دې باوجود به هم اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د جَمعې سره نـمونځ کولو، خلورو کسانو به پۀ کرسئ باندې کښينولو او اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ به يـې جومات ته بوتللو۔ [(6)] ❀ د بهارِ شريعت مصنف مفتي امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د جَمعې سره د نـمونځ کولو پۀ سختئ سره پابند وو، که

1...الاصابة، رقم:4883، عبد اللہ بن عمر، جلد:4 صفحه:151۔

2...تاریخ ابن عساکر، رقم:2514، سعید بن عبد العزیز...الخ، جلد:21 صفحه:203۔

3...فیضانِ نماز، صفحه:143 ملخصاً۔

4...فیضانِ نماز، صفحه:496۔

5...فیضانِ نماز، صفحه:502۔504، ملتقطًا۔

6...فیضانِ نماز، صفحه:553، ملخصاً۔

چرته به مؤذِن پهٔ وخت باندې رانغلو نو اذان به يـې هم پخپله کولو- [1] ❁ د قرآنِ کريم د مفسر، مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه د 40، 50 کالو پورې پرله پسې تکبيرِ اُولیٰ هم نهٔ وو قضا شوے- [2] ❁ اميرِ اهلِسُنَّت، حضرت علامه مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: د جَمعې قضا کول زما هډو پهٔ ډکشنرئ کښې نشته، تر دې چې کله زما مور بې بي وفات شوه نو هغه وخت پهٔ کور کښې بَل څوک نارينه نهٔ وو خو اَلْحَمْدُلِلّٰه! د مور مړے مې پهٔ کور کښې پريښودو او پهٔ جومات کښې به مې د جَمعې ورکولو سعادت حاصل کړو- [3]

جماعت کی مولیٰ عنایت ہو اُلفت | کرم ہو پئے مصطفےٰ جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم

## د جَمعې سره د نـمونځ کولو فائدې او ثوابونه

❁ الله پاک د جَمعې سره نـمونځ کوونکي محبوب ساتي (يعني خوښوي) يـې- ❁ د جَمعې سره نـمونځ د ځانله نـمونځ کولو نه 27 درجې افضل دے ❁ الله پاک او د هغهٔ فرښتے د جَمعې سره پهٔ نـمونځ کوونکو باندې درود رالېږي ❁ د جَمعې سره نـمونځ کوونکے به پهٔ پل صراط د بجلۍ پهٔ شان تيرېږي ❁ د جَمعې سره د نـمونځ کوونکو شان او شوکت چې ووينې نو د حشر والا به ورته پسښېږي ❁ د جومات طرف ته د تلونکي پهٔ هر قدم باندې يوه درجه زياتيږي او ❁ يوه ګناه ورانولے کيږي ❁ الله کريم به د هغهٔ د پاره سحراو ماښام د ميلمستيا انتظام کوي- [4] ❁ که پهٔ جَمعه کښې د يو نـمونځ قبول شو نو د ټولو قبول دے- [5] **د جَمعې سره د نـمونځ کولو د دُنيا فائدې:** ❁ د جَمعې پهٔ برکت پهٔ قوم

1…تذکرہ صدر الافاضل، صفحہ:31۔
2…فیضانِ مفتی احمد یار خان نعیمی، صفحہ:29، بتغیر قلیل۔
3…سنت نکاح، صفحہ:19۔
4…فیضانِ نماز، صفحہ:139۔
5…رسائل نعیمیہ، اسرار الاحکام، صفحہ:288۔

کښې نظم و ضبط وي ❀ د جُمعې سره په خپل مينځ کښې اِتفاق زياتيږي ❀ قوم د وختونو د پابندۍ عادت کيږي چې ټول خلق په عين وخت باندې جومات ته راځي۔

## د جُمعې سره د نمونځ نۀ کولو نقصانونه

❀ د شرعي مجبورۍ نه بغير يو ځل هم جُمعه پريښودونکے ګنهګار دے ❀ په جُمعه پريښودونکي باندې شيطان غالِب کيږي او په هغۀ باندې خپله قبضه مضبوطوي (د تجربې نه معلومه شوې ده چې د جُمعې د قضا کيدو په شکل کښې خلق د لم ليټ نه کار اخلي، نتيجه يې دا راوځي چې مَعَاذَ الله! کله کله د هغوئي نه نمونځ هم قضا شي) ❀ څوک چې تکبر (يعني اِقامت) واوري او د جُمعې د پاره حاضر نشي، په حديثِ پاک کښې هغۀ ته بد بخته، نا مُراده، ظالم، اَظلم (ډير لوئي ظالِم) او منافق فرمائيلے شوے دے۔ [1] ❀ ځانله نمونځ کوونکے، د جُمعې سره د نمونځ کوونکي درجه نشي موندلے که يو نمونځ 27 کرته ولې اونکړي۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نن مونږ د نيک عمل نمبر: 2 د جُمعې سره د نمونځ کولو په موضوع باندې ګټه ور معلومات حاصل کړۀ، راځئ چې نيت اوکړو: د دې نيک عمل په اختيارولو به پينځه واړه نمونځونه د جُمعې سره ادا کوو نو هم نن د مکتبة المدينه نه ❀ نيک اعمال رساله حاصله کړئ يا په موبائل کښې ❀ ***Naik Amal*** ايپلي کيشن انسټال کړئ او روزانه د خپل ځان د جائزې د اخستو او د دې د خانو د ډکولو نيت اوکړئ۔

نوټ: د جُمعې سره د نمونځ د فضائلو او په دې باره کښې د تفصيلي احکامو نه د ځان خبرولو د پاره د شيخِ طريقت اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علامه مولانا محمد الياس عطار

---

1…فتاوىٰ رضويه، جلد:7، صفحه:102 ملتقطاً۔

قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه کتاب ❁ فيضانِ نماز د صفحه 137 نه 230 او ❁ بهارِ شريعت جلد اول، صفحه 574 نه 594 پورې ولولئ۔

## د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د اودهٔ کيدو پهٔ وخت لوستلے کيدونکې دُعا

اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيَا

**ترجمه:** اے الله! زهٔ هم ستا د نوم سره مړ کيږم او ژوندے کيږم (يعني اودهٔ کيږم او راپاڅم)۔ [1]

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نمونځ نه مخکښې مو د نمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نمونځ نه پس مو آية الكرسى، تسبيحِ فاطمه، سُوْرَةُ الْاِخْلَاص لوستلے؟ (6): آيا د كنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلې يا اوريدلې؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلې؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (11): آيا د فضول نظر نه پهٔ بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکتبة المدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟

1... بخارى، كتاب الدعوات، صفحه:1560، حديث:6314، ومدنى پنج سوره، صفحه:203۔

(13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا پۀ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آيا پۀ مکـتبة الـمدينه بالغان کښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګينټو کښې کور ته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو پۀ ديني کارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آيا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةُ الليل مو ادا کړي؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو کړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا کړي؟ (36): آيا پۀ 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلي نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آيا پۀ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزئ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئيلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آيا د صفايئ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پۀ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څۀ نا څۀ جائز کار

نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئیلې؟ (47): آیا چوک درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (48): آیا مور پلار او پیر او مرشد ته مو ایصالِ ثواب کړے؟ (49): آیا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آیا د ټریفک د قوانینو پابندي مو کړې؟ (51): آیا د تنظیمي طریقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آیا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آیا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آیا د ټوقو ټقالو، خندا، زړهٔ ازارولو او پهٔ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آیا عمامه شریف مو پهٔ سر کړې؟ (56): آیا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدینه کارکردګي

✿ پهٔ لیکلو خبرې کول 12 کرته ✿ پهٔ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ پهٔ سترګو کښې د سترګو اچولو بغیر خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نیک اعمال

(57): آیا د اِسلامي خوئیندو هفته وارې اِجتماع ته مو ځوک اِسلامي خور د کور نه لیږلې؟ (58): آیا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې یا اوریدلې؟ (59): آیا پهٔ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آیا یومِ تعطیل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آیا د مریض یا غم زپلې تپوس یا غم خورې او د چا پهٔ وفات کیدو مو تعزیت [لاس نیوه] کړې؟ (62): آیا پهٔ هفته کښې مو پهٔ یوه ورځ کښې روژه نیولې؟ (63): آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ (64): آیا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آیا مخکښې راتلونکي او اوس د نهٔ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د دیني ماحول سره تړون پیدا کړو؟